شهسوارسنګروال

۲۰۲۴/۰۵/۰۸

# داوستا په پاڼوکې،

## ولسي اوپلکوریکي کیسې ولې ښکلې دي؟

## ۶ځپر کی

دلرغوني اریانا په بیلا بیلو توکمونو کې دانسان دوله ژوبیواوښار وبیوپه تړاوډېر افسانوي روایتونه،داوستا په بیلا بیلوبرخوکې شتون لري .
په یسناکې دهغه سپیڅلې خره یادونه کېږي ،چې دپام وړ دی ... همداډول دهغوموجوداتوپه هکله ،چې نوروته زیان رسوي هم خبر شوي دي ، ددوی پر وړاندې،بیا داهورا مزدا ستاینه شوې ده .
په دغوداستاني اوافسانوي روایتونو کې داهورا مزدا پر وړاندې داهریمن یادونه کېږي ، لکه اژي(اژي دهاکه ) ، ګندروا ، ښاماران اونور چې ددوی په اړه سرودونه کښل شوي دي .
دهېرودوت درواېتونو له مخې ،په ساکانو کې داسې افساني اوپلکلوربکې کیسې وې ، چې په لومړنیو انسا ناتو کې،لومړنی انسان داسې و،چې نیمه تنه یې دښځې وه اونیمه تنه یې دمار وه .
په هندي اریایانو کې هم ورته پلکلوریکې کیسې موجودې وې ،چې ویل به یې دهند په غرونو اوځنګلونوکې یوډول خره موجود دي چې وجود یې داس نه غځ دی ... په توله کې دکیومرث په ځېر اوددیوانو،سېمرغ ،ښاپېرانو اونوروانسان دوله کېسو...انساني تولنو ته لاره کړې ده .
داوستا یې کیسو اوسرودونوپنځوونکی زرتشت و،چې دده سندریځ مناجاتونه ،چې ګاتونه نومېږي ،دواحد خدا دلمانځنې ستاینه وه .
داوستا دزردشتي دین سندریزه تراني په پنځو برخو ویشلی شوي دي :
۱--- یسنا yasna، داوستا لومړی برخه چې پرګاتونو مشتمله ده .
۲--- اوشتود ustavad ، ددې برخې ۲۱ یشتونه پا تې دي .
۳--- ویسپرډvesprad ،چې څلرویشت برخې لري.
۴--- خورده اوستا (او))دلمانځنو اودوعاګانوxortak avistak برخه .
۵--- وندیداد ، دساسانیانودمهال اوستا ...
دلومړی سرود یوه بیلګه،
دپاک زردشت فکر،وینا اوعمل ،
داهورا یانش (مهرباني لیکوال )دی ،
ومنی اې پاکوتلپاتو،
ګاتونه .
درود پرتاسوای پاکو سرودونو،
دادی ،
اې نېکې زیاتوونکومینویې مزدا،
په بیل کې،
په لوړو کړیواونیکمرغي غوښتونکولاسونو
تاته لمونځ کوم



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ګوندي
له ټولو پاکواواوربنتینوکړنو سره،
چي په عقل اونیکفکرسرته رسوی شي ،
دهستوني روح خوشحاله کړ،
ورکړه لطف اومهرباني (۱۸)

ښه به وي ، چي زموږدولسي اوپلکلوریکو ادبیاتوتاریخي شالید هم لږ ترلږه وپیژنو یاني د اریایانو یو بل لرغونی کتاب اوستا نومیږي، چي د بلخي زرتشت (زرا تشترا) له خوا کښل شویدی.
د اریایي نسبتاً پرمختللي مدنیت دویم پیر، چي د اوستا له کښلو پیلیږي، لا دا خبره په بشپړ توګه سپینه شوې نده، چي دغه کتاب په ربنتني توګه څه وخت مینځته راغلی دی؟ ولي له څنګه چي د برهمنانو کتاب «ریګویدا» په تړاو انګېرل کېږي، چي د ۱۵۰۰ م ز او ۲۵۰۰ مخزیږدي تر مینځ په افغانستان کي کښل شوی او په هند کي بشپړ شوېدی.
دارنګه د تاریخي څېړنو له مخي د اوستا مدنیت د «۱۲۰۰» م ز او «۱۰۰۰» مخزیږدي تر مینځ پیل او پایښت موندلی دی.
لکه څرنګه چي لرغونپوهانو د ریګوید متون له مخي د لرغونو اریایانو د ټولنیز ژوند په بېلابیلو اړخونو څېړني کړیدي، دارنګه د اوستا کتاب هم پخپله د اوستا یي مدنیت یو بل لاسوند دی، چي څېړني پرې شوي دي اوپنځه بابه لري.
د زمان له تویانونو راوتي برخه د اوستایانو یو ښه سرچینه ده چي د هغه مهال د اریایي مدنیت یوه لویه کلتوري شتمنی یي ګڼلي شو، په لومړي سر کي اوستایي ولسي ادبیات او د زرتشت سرودونه خوله په خوله له یوه نسل نه بل نسل ته لیږدیدل.
د دغو شعرونو او سرودونو زښت زیات ارزښت پدې کي دی، چي د هغه مهال د خلکو فکري، مدني ، یوټولنیزبهیر او یومخ پرودې پیراودور په ډاګه کوي.
اوستایي مدنیت، چي د ریګویدا په لمنه کي وتوکېد، د اریایي وګړو په هر اړخیز ژوند یي ژوره اغیزه وکړه او ان د سکندر د برید تر مهاله یي د اریایایي هېواد تر پولو ځان ورسوه.
د اوستا ژبه، چي په افغانستان کي وزېږیده اوله اوږدو پیړیو وروسته بیا همد لته د ژوندییو ژبو له لیکو وو ته ،ولي انګېرل کېږي چي د اوستا دغه ستر کتاب د مخزیږدي شپږمي پیړی په شاوخوا کي په یوې بلې اریایي ژبې وکښل شو.
د مخه مووویل، چي د بهرنیو بریدونو په ترڅ کي د اوستا ډېره برخه زیانمنه شوه، ولي کله چي پارتیانو د یوه دولت بنسټ کېښود او هغه مهال، چي د زیږدي لومړی پیړی په شاوخوا کي انجیل لیکل کېده، یو ځل بیا اوستا هم راټول شو، خو دوه پیړۍ وروسته، د ساسانیانو د واک په مهال (په دریمي زیږدیزی پیړۍ کي) د پهلوي الفبا پر بنسټ اوستا چي تیت و پرک وه راټول کړی شو.
کله چي په مخزیږدي شپږمه پیړی کي اوستا کاږل کېده، په ۲۱ کتابونو کي، چي «۸۱۵» څپرکي یي درلودل خپور شو، ولي د ساسانیانو په وخت کي دغه کتاب په ۲۱ نسخو کي چي د ۳۴۸ څپرکو درلودونکی وو خپور شو.
په پارس کي که له یوې خوا ساسانیانو د اریایانو د سپیڅلي کتاب جاج واخست خو له بلې خوا اریایي ټبر، د خپل نیکه یي ټاټوبي نه مخ په هند روان شول.
د هند بومي اوسیدونکي «دراویدیان» یي په شاوتمبول او باختري اریایانو، له بلخ نه وروسته د ګنګاد سین په غاړه د دویم سلطنت بنسټ کېښود.
دا چي اریایان له بلخ، شمالي او جنوبي هندوکش نه د اوسني افغانستان دننه هرې خواته خپاره شول، دارنګه، ان تر پارس او هند پوري خپلي لیکي وغوځولي، د اوستا د څرګندونو له مخي، یو لامل دا وو چي اریایي وګړي کوچیان ول، د موسم په بدلون، د خپلو څاریبو لپاره یي د څړ ځایونه لټول او د دې هڅو له مخي وررورو کلیو او ښارونو ته مخه کړه.
اوستا هم د دغو وګړو د استوګنو په اړه اوږدې څرګندوني کړي او د ځانګړي جغرافیوي موقعیت له مخي شپاړس (۱۶) سیمي یا ولایتونه په ګوته کړیدي.
که څه هم «وید» ترپوه بریده دغه سیمي رانښیي، خو هغومره، چي اوستا په بشپړه توګه د اریایي هېواد د بېلابیلو ولایتونو جغرافیه راپیژني په پرتلیزه توګه د پام وړ یي ګڼلی شو.
اوستا له ایرانا ویجه پرته د اریایانو خاوره په نورو نومونو هم یاده کړېده، چي موږ «ایریاوود ناهوو airyao danhavo» ، ایریاوود هویو airyao dahva او ایریوشایانا airyo shayana د بیلګي په توګه یادولی شو.
اوستا چي د بخدي سلطنتي کورنی شپاړس ولایتونه موږ ته په ګوته کړیدي د امو سین او اباسین ترمینځ پراته وو، ولي د لرغونو یا لومړنیو اریایانو څلور خواوي داسې په ګوته شویدي، چي شمال پلوته سیحون (سیر درياب) او د جیحون (امو رود) سهل لور ته بلوچستان او د هند تر سمندره پرتي سیمي، ختیځ ته پنجاب او لودیځ خواته همدان.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

کننګهم بیا پدې اند دي، چي د اریانا خاورې شمال ته اکسوس او سغد یانه، سهل پلوته د هند سمندر، ختیځ لور ته اندوس رود او لودیځ خواته یي نږدې د پارس ولایت وو.»[1]
اوستا د اریایي ټبر د یوه موهم لاسوند او سرچینې په توګه، د زماني له توپانه روغ رمټ راونه ووت او غوښنه برخه یي د همدې پېښو قرباني شو. ولي بیا هم میر غلا محمد غبار په دې تړاو داسي لیکلي دي: «اوستا د زرګونو کالو په موده کي تر ډېرو تاریخي پېښو لاندې راغلی، نو ځکه خو په بشپړی بڼه پاتي نشو. پر اوستا چي کوم تفسیر په پهلوئ ژبه وکښل شو «زند» نومېږي، تفسیر چي تفسیر کړی شو، هغه ته یي بیا «پازند» وویلي نن د اوستا د «ګاتونو» یوه برخه پاتي ده، چي مذهبي سرودونه دي. د اوستا یوه نسخه چي په «دین دبیره» لکیدود ده د ډنمارک په کوپنهاګن کي خوندي ده. په ۱۴ مي زیږدي پیړئ کي کاپي شوېده. د دین دبیره لیکدود په شپږمې زیږدي پیړئ کي، چي د ساسانیانو پیراودور و، د اوستا د لیکني لپاره منیځته راغی . »[2]
د اوستا په لومړي باب دربیمه (۳) برخه کي، چي «وندیداد» نومېږي، د یو شمېر ابادو او غوړېدلو سیمو یادونه کوي، چي اریایان پکي مېشت او ودان ول او د اوستا یي دوراوپیر هېواد یي باله.
د دغي اوستایي خاورې بېلابېلي برخي داسي راپېژني:
۱- آریانم ویجو (ایرینه ویجو) یاني د اریایانو ریښتنی استوګنځی، چي لرغونپوهانو دغه سیمه د امورود پاسنی برخه او سر دریا، چي اوسنی فرغانه یي بولي بللی شو.
۲- سغده، چي سغدیا نه ګڼل کېږي، د امورو د ښي غاړه کي موقعیت لري.
۳- مورو، چي له مروې او مرغاب څخه عبارت دی او هغه رود چي له شمالي غرونو نه سرچینه اخلي د مروی رود یي بولي چي دغه سیمه یي خړ وبوله.
۴- بخدی چي بخل بامیک (بلخ بامی) هم ورته ویل شویده د اوستا موهمه او غوره سیمه ګڼل شوېده.
۵- نیسایا: دا د اوستایي خاورې هغه برخه ده چي د مرغاب او بلخ تر مینځ پرته ده، چي ځني برخی په میمنه او ځني په عشق ا باد کي دي.
۶- هرای وه: دغه د« هري »سیمي او یا د هریرود سیمي نوم دی. اري او هري نومونه تر اوسه هم دود دي او (اوسنی هرات) یي هم بولي.
۷- ویکره ته: تر ډېره بریده لرغونپوهان او جغرافیه پېژندونکي انګېري، چي دغه د لرغوني کابل سیمه بللی شي.
۸- اوروایا اوروه: څېړونکي پدې اند دي چي ښایي «روه» او یا «اروه» وي، ځني انګېري، چي د غزنه او طوس سیمي دي او یا هم «ارګون».
۹- خننتا: دغه سیمه ښایي د «هیرکانیا» یا «ګرګان» سیمه وي.
۱۰- هري ویتي: دغي سیمي ته په لرغونو متونو کي «اراویتي» هم ویل شویدي، چي موخه تري د ارغنداب د رود شاوخوا سیمي دي.
۱۱- اي تومنت: یا ایتو مندرس یاهیتومنت لرغونپوهانو د هیرمند رود پراخي غاړې ګڼلی دي، چي د اسلامي پېر تاریخپوهانو نیمروز هم یاد کړی دي.
۱۲- راګایاره ګه: یو شمېر څېړونکي (ری) ګڼي او «راغه» هم.
۱۳- کخره: ډارمستر دغه سیمه په غزني کي او یا د خراسان کومه سیمه ګڼي.
۱۴- ورنا (ورنه): څېړونکو په څرګنده او نا څرګنده توګه کومي سیمي ته ګوته نده نیولې.
۱۵- هپته هندو: موخه تری «اوه رودونه» چي اوس یي پنجاب بولي.
۱۶- رانګه (رانګا): لرغونپوهانو لا تر اوسه دغه سیمه نده په ګوته کړي.
موږ دمخه وویل چي له «وید» نه وروسته دویم ستر اریایي کتاب اوستا او د ستر عالم «زراتشترا» له خوا لیکلی شویدی. دا مو هم دمخه وویل، چي «وید» د پوهي په مانا دی او د دې پوهي د پراختیا لپاره څلور کتابونه تر اوسه لاسته راغلي دی، پېژنو چي: ۱- ریګ وید ۲- یجروید ۳- سما وید ۴- اتهرواوید نومول شویدي...
همدارنګه اوستا هم په پنځو برخو ویشل شوی:
۱- یسنا yasna ۲- ویسپرد visperd ۳- وندیداد vendidad چي په پهلوي ژباړل شوی. ۴- یشت
۵- وړه اوستا ، چي د اوستا دغه برخه، چي یسنا ده، «ګاتا» یي بولي چي د سرودونو مانا لري او دا برخه یي اصلي او لرغوني ځکه ده، چي د زراتشتر د ویناو مجموعه ده.
د اوستا هغه بڼه چي د ساسانیانودواک په مهال مینځته راغلي ده،ترډېره برید ه یي د نظم په پرتله د نثربرخه غوښنه ده.
ولي لرغونپوهان او ختیز پېژندونکي انګېري، چي اوستا د نظم په بڼه، چي ځانګړې قافیه او ریتم یي درلود لکه د ویدي سرودونو په څېر یو منظوم اثر دی.
په بنسټیزه توګه «ګاتا=ګاس) چي ۲۳۸ څلوریځې او ۸۹۶ مصرع درلود ې د اوستا له نورو برخو نه توپیر لري یو لامل یي نظم والی دي او نورو برخو یي شعریت او نظم والی له لاسه ورکړیدي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څېر و لولئ

تر ډېره بريده ويل کېږي، چې مخزيږدي دريمي پېړی په شاوخوا کې اوستا په نظم کښل شوی وو، ولي د ساسانيانو د پير په وخت کې په نثر واړول شو، چې ژبه يې پهلوي پارتي اشکاني وه او داسې ويل کيږي، چې په څلورمه هجري پېړی کې بلخي شاعر، دقيقی په فارسي کاړلی دی.
لکه څرنګه چې په ويدا کې د يو شمېر سيمو، غرونو او رودونو يادونه شوېده، دارنګه په اوستا کې هم د يو شمېر غرونو او سيمو يادونه شوېده.
اوستا چې د شپاړسو موهمو سيمو يادونه کړېده، په څنګ کې د دغو سيمو جغرافيوی څرنګوالی، د خاوري جوړښت، اوبه، هوا، کرهنيز ارزښت، ځنګلونه، رودونه او د غرونو شته والي ته هم ګوته نيولې ده.
اوستا پخپلو يو شمېر «يشتونو» کې، د ساري په توګه «زمياديشت» کې د ګڼو غرونو يادونه کړېده او همدا ډول په دغو غرونو کې، چې کوم بوټي زرغونېدل هم په «يشتونو» کې نوم ياد شويدی، چې موږ «هوما» د بېلګې په توګه يادولی شو.
اوستا لومړی د غرونو يادونه کوي او بيا کوم بوټي، چې پدغو غرونو کې را ټوکېدل، دربمه دا چې له يادو غرونو چې شمېر يې ۲۲۴۴ په ګوته شويدي او بيا چې کومو رودونو تري سر چينه اخستې ده هم يادونه کوي. د ساري په توګه:
- په زميا ديشت کې د «هريتي بارز» د غره يادونه شوېده، چې الماني ختيځپو «ګايګر» دغه غر د پامير غر بللی دی.
- په زميا ديشت کې د «زردهازا» غره نوم راغلی دی، چې د يوې ځانګې نوم يې «اوشيدا شار» ياد شويدي. فرانسوي ختيځپوه «د ارمستتر د دغه غره موقعيت د سيستان په شاوخوا کې اټکل کړېدی او پدې ټينګار کوي، چې د «هيرمند» رود له همدې غره څخه سر چينه اخلي، چې له دې يادوني يې موخه د «باباغر» دي.
- سيا مکه غر، چې موخه تري «تورغر=کوه سيا) ده او د ارمستر هم ورته د تور غره خطاب کړيدی، چې د هريرود شمال ختيځ ته پروت دی.
- يو پايي ري سنا، دغه غره ته د هندوکش د غرونو لړی ويل شوېده.
- وفره يانت، دغه غر د هندوکش د غرونو له سلسلې څخه ګڼل کېږي.
- سپيته ورنه، د دغه غره له يادوني نه موخه هغه غر دی، چې تل به په واوري پټ وه. له سپيته ورنه څخه هدف «سپين» دی.- سپيته ګوناغيري، د دغې کلمې له تجزی نه ښکاري، چې سپيته د سپين په مانا دی، ګونا=ګون د رنګ او بڼي په مانا او همدارنګه «غيري» د غره په مانا راغلی دی، چې موخه تري «سپين غر» دی.
د اوستايي پير له دغو څرګندونو سربېره، پدغه بهير کې، د بلخ په لرغوني ښار، چې يو شمېر څېړونکي يې، پدغه لړ کې فضايل بلخ يادوو د نړی دويم ښارګوټی ګڼي، (لومړی ښارګوټی په هند کی د اوق ښار) د يوه باچا يې نظام بنسټ کېښودل شو او په دغه ترڅ کې د هغه مهال له غوښتنو سره سم يو شمېر قوانين او تولنيز ارزښتونه دزره توشتره=زرتښت له خوا مينځته راغلل.

دزراتشترا
(زرتشتر سپتمه=زرتشتر سپنتمان)
مذهبي ښکلا په څه کې وه؟
د زراتشترا په تړاويوشمېرلرغون پېژندونکو داسې ليکلی دي: «په ګاتونو کې د اوستا د کتاب صاحب، چې د دې کتاب لرغوني برخه ده د زرتشترا پنوم ياد شويدي.»[3]
«اوستا هغه لرغونی کتاب دی، چې د زرتشت ياد زراتشترا بلخي له خوا رامينځته شو.»[4]
ډېر څېړونکي انګېري چې د اوستا کتاب زرتشت کښلی دی، ولي د اوستا او زرتښت نېټې تر شک لاندې دي ...
«د افغانستان د اريايي خلکو دويم مدنيت په بخدي (بلخ) د هندوکش په شمالي او سهيلي سيمو او د هلمند په وادی کې و، چې د ۱۲۰۰ م ز په شاوخوا کې پيل شوی او له هغه پيرنه يو کتاب د اوستا په نامه پاتې دی، چې پنځه بابه لري.»[5]
ګڼ شمېر څېرونکي په يوه خوله دي، چې د اوستا کتاب د (۱۰۰۰-۱۵۰۰ م ز تر مينځ کښل شويدی، ولی د دغه کتاب د رامينځته کوونکي زرتشت د زوکړي په تړاو انګېرني بيا داسې دي: «له نوموړي څخه وروسته يې زوی واکمن شو او د نوموړي د واکمنی په زمانه کې زردشت (۶۶۰ ق م شاوخوا) هم راڅرګند شو...»[6]
دغه ليکوال د لاسوند سرچينه نده ياده کړی، خو زه باور لرم، چې ده د پوهاند حبيبي له کتاب نه استفاده کړيده او په دغه کتاب کې لولو:
«زردشت د ژوندانه زمانه په باوري توګه څرګنده نده، خو د زردشتي کتابونو د وينا له مخې د (۶۶۰ م ز) په شاوخوا کې زيږيدلی دی ...»[7]
پدغه لاسوند اورېفرنس کی د هغه زردشتي کتاب ځانګړي يادونه نده شوي، چې د زرتشت د زوکړی نېټه يې اومه (۷) مخزيږدی پېړی په ګوته کړېوي، که څه هم ده په بېلابيلو برخو کې يانی زرتشت ۲۱ کتابونه ليکلي دي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په څير و لولئ

که چېرې په دغه کتاب کی یادونه شوی وی، نو دا به ډاګیزه شوې وه، چې آیا د ا په کومه شوی کتاب د ساسانیانو له خوا لیکل شوی او که د دوئ له واک نه دمخه؟
د اوستا هغه پنځه برخې په ځانګړې ډول د «یسنا» برخه، چې تر ټولو لرغوني او اصلي ګڼل کېږي او د زراتشترا د ویناو ټولګه بلل کېږي، که پدغي او یا نورو ټولګو او برخو کې د هغه د زېږیدو یادونه شوی وی نو یادو شکونو ته د پای ټکی ایښودل کېده.
ولې د اوستا هغه بنه چې د ساسانیانو د ځواک په مهال رامینځته شویدی، که پدې کې زکر شوې نېټه تر سترګو شوې وې نو بیا پرې ډېر باور ندی په کار.
غبار هم اندېښنه لري او پدې اړه یې ویلي دي چې:
«د بېلابېلو تاریخپوهانو د اند په توپیر، د باختري سلطنت او د زردشت په تړاو، چې ګڼې ۲۵۰۰-۶۹۰۰ مخزیږ دي په شاوخوا کې پیدا شویدی له دې تېرېږو او د وروستیو څېړونکو په لیکنو بسنه کوو، چې زرتشت دغه دین په اریایانو کې د ښبتن تعالی د لمانځنې په موخه خپور کړ.»[8]
خو له دغې یادوني دمخه تاریخپوه غبار، پدې ټکی ټینګار کوي: «ځنګه چې د افغانستان د لرغونو ژبو اثار ندی پاتې، یوازې د اوستا ژبه، چې د اوستا د کتاب له مخې ټاکل شوېده، دا ښېي چې له میلاد نه «۱۰۰۰» کاله دمخه په افغانستان کې دود و...»[9]
ولې بیاهم لکه څرنګه، چې د ویدي پېر رېښیانو، له تاریخ نه دمخه پېر، د خلکو دودونو، لمانځنو او فکري بهیر په تړاو معلومات تر لاسه کړل، نو بیا یې د هغې ټولنې له کړو وړو نه هم استفاده د وکړه.
همدارنګه زرتشتر سپنتمان هم د ویدي عصر د ریشیانو چې په اوستایي پېر کې دی پخپله یوریشي وو له څرګندونو نه ګټه اخستې ده، دا ځکه چې ویدي سرودونه سینه په سینه او خوله په خوله لېږدېدل.
دی چې شاعر هم وه د ویدي سرودونو د پېر په رڼا کې د اوستایي پېر چاپېریال هم په پام کې ونیو او د ټولنې له ودې او شرایطو سره سم یې د اوستا د ګاتونو او سرودونو کښلو ته لار پرانسته.
دغه خبره فرانسوي ختیځپوه د ارمستتر سپینه کړېده چې ګاتونه یاني د اوستا لرغوني برخه پدې اړه کوم څه چې ویل شوي ول ده وژباړل او دا یې په ډاګه کړه «چې ژبه یې د لرغوني اوستا له نورو برخو نه پخوانۍ ده. ډېر کلمات یې په عامیانه« زند » کې نه، بلکې په ویدي ژبه کې لیدل کېږي او دا یوازې د اوستا هغه برخه ده، چې نظم شوېده.»[10]
یو شمېر «ویدي» پېژندونکو، د یوې لرغوني مفکورې توکې پکې هم موندلې دي او دا چې په یقیني توګه د زردشت د ژوند زمانه په باوري توګه څرګنده نده خو بیا هم، د ده پلار «پوروشسپه paurushaspa» نیکه یې پتیراسپه او د هغه څلورم پښت «هچاتاسپه haechatacpa نومېده .
دلته ګورو چې د ده د پلار او د نیکه نومونو وروستاړی په «اسپه» پایته رسېږي. له دې څخه ښکاري، چې دی د بلخ د واکمنی کورنۍ «اسپه» له ټبر څخه وه، چې په باختر کې سلطنت درلود.
له دې پرته داسې انګېرنې هم شتون لري، چې زرتشتر په دولسم پښت کې، خپله شجره تر «مانو چیترا» پورې رسوي. دی د اوستا د متن له مخې د «ایریو airyu» زوی بلل شویدی. ایریو د «تري تونا» زوی وه چې د «پاراداتا» پاچایانو له جملې څخه ګڼل کېږي او پیشدادي سلطنتي کورنۍ پورې اړه لري .
دلته د زردشت د سرودونو څو بېلګې راوړو او ګورو چې آیا د زردشت دین یوازې اخلاقي او معنوي ارزښت درلود، که په اقتصادی او ټولنیزو ارزښتونو یې هم ټینګار کاوه؟
لومړی دېته تم کېږی چې د اوستایي پېر ښېګڼي وپېژنو او دا ځکه د افغانستان د تاریخ له مخې اویستا د ډېر ارزښت وړ دی اود ریګویدا له سرودونو وروسته، اوستا د کرهنیزو هڅو، لاسي صنعت، د څارویو د روزنو او د قبیلوي نظام د ټینګښت سپارښتنه کوله.
د افغانستان په لرغوني تاریخ کې، سره د دې چې لیک لوست نه وه او د ټولنیز ارزښت او اړتیاو له مخې د توکو لېږد او رالېږد، د جنس په تبادلې تر سره کېده، دا ځکه چې سکې او پیسې نه وې .
زرتشت له لرغونو کسانو څخه دی، چې په لرغونی افغانستان کې د یوه نوي اقتصادي ریفورم بنسټ کېښود.
کلتوري نمانځنې، موسیقي او نڅاوې او نور ټولنیز فعالیتونه د اوستا په پېر کې ترسره کېدل .
په اوستایي ټولنیز جوړښت کې روحانینو، بزګرانو او نظامي بنسټونو ځانګړی ارزښت درلود. اوستا پخپلو پاڼو کې د جم (جمشېد)، ویشتاسب (ګشتاسب) او کاوې نومونه هم یاد کړیدی.
د همدغو نومونو پر بنسټ لرغونپوهانو، استوره کښونکو او د یو شمېر روایتونو له مخې راویانو د پیشدادیانو، کیانیانو (کیاني) او د اسپه شاهانو یادونه هم کړېده.
د هیښتیا او حیرانتیا خبره خو دا ده، چې په اوستا کې د «فلزاتو» یادونه هم شوېده، که څه هم خلکو له اوسپنې سره اشنایي نه درلوده .
زردشت پداسې حال کې چې له یوې خوا یې د کرهنیزې ودې او د څارویو د روزنې سپارښتنه کوله ، خو له بلې خوا یې خلک د «اهوره مزدا» لمانځنې ته هم رابلل .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د اوستا د سرودونو پر بنسټ، ده د پخوانیو ګڼ شمېرو خدایانو لمانځنه پرېښوده او د یوه واحد خدای (اهوره مزده) عبادت یې کاوه.
دده د فلسفي غټ ټکي دا وو، چې نړۍ دوه ارواوې لري؛ یوه یې ښه ده او بله یې بده ارواښللی کېږي . ژوند یوه باطني جګړه ده، چې د شر پر وړاندې روانه ده او پدې جګړه کې رڼا او تیاره، عقل او اهریمن یو د بل پر وړاندې دي...
د اخرت ورځ د کړنو محاسبه د دروغو پر وړاندې دي رښتیا، جنت، دوزخ او نور په لسګوني توکي او اندونه، چې زردشت دي موخي ته د رسېدو په هیله د لمانځنې اتشکدې اور تونونه جوړې کړې ول.
ده د څارویو قرباني ناروا ګڼله په ځانګړې ډول هغه څاروي، چې په ژوند ونې یې خلکو ته ګټه رسېده لکه دیوې قلبه یان ، تې لرونکی او بار وړونکې څاروي چې له شید و، وړیو او پوټکو نه یې وګړو استفاده کوله او هم د خیر او ښېګڼو پرښتو د ښو کړو وړو ساتنه کوله او دا ځکه ګاتونه پخپله د سپېڅلو خبرو مانا لري :
ـ وهومنه بهمن، ښه او نیکه انګېر نه یا د رمو او بېلابېلو ژوویو د ساتنې پرښته .
ـ اشه وهیشه، د اور پرښته...
خشره وییره ، دفلزاتواوښکلیېو توکواو ډېروسا تندویه پرښته .
ـ سپېنته ارمیتي (سپیدار مز) سپېڅلی اروا، د ځمکې ساتندویه پرښته.
ـ هیوروتات (خرداد)، د پیاوړتیا، روغتیا، د کور او اوبو پرښته.
ـ امیریتات، (ابدیت، ژوند او بقا)، د څرخایونو پرېښته.
د دې یادو پرښتو پر سر یوه پرښته د «سپېنته مینیو په نوم ولاړه ده، چې بیایي کله پرځای «اهورامزدا» د رېږي.
له دې سربېره:
د رڼا، نیکي، د خیر او ښېګڼو پر وړاندې د بدې، تیارو ، د شر توکي او بیا د دوئ ځواک یې داسي انځور کړیدي:
ـ اکه منه: دشر، بدئ او نا یو والي ښکاروندیه .
ـ ایندره، د خلکو د بېلارۍ اروا .
ـ سیوروه، د ګډ وډیو ښکارندویه .
ـ نا اونګ هیي تیا، د یا غیبتوب او نافرمانۍ ښکارندوی .
تیوروي، د ورانۍ، فساد ، ناروغۍ او بد مرغۍ ښکارندویه .
ـ زیي ریش، د ابدي ژوند او بقا ضد .
په ټوله کې زرتشت خپلو پلویانو، پیروانو او مریدانو ته د ښو کولو (هو ورشته)، ښه ویلو (هوخته)، ښه منلو (هومته) سپارښتنه کوله.
د اوستا ژبه له میلاد نه دمخه په افغانستان کې وزېږېده او له مېلاد نه پېړۍ پېړۍ وړاندې له مینځه لاړه، ولې بیا هم د زرتشت سرودونه د ولسي او پلکلوریکو ادبیاتو په څېر سینه په سینه لیږدېدل. خو اوستا له میلاد نه دمخه په شپږمه پېړۍ کې په یوې بلې اریایي ژبې وکښل شو، ولې د سکندر دیر غلګرو د برید له امله له مینځه لاړ او له دغه مهاله دمخه، اوستا ۸۱۵ څپرکي درلودل، چې په ۲۱ کتابونو کې راغونډوو او سکندر له خوا سپېڅلی او ستا چې د غوا یې په ۱۲۰۰ پوستکو باندې لیکل شوي وو وسوزول شو.
لکه دمخه چې ووېل شو ،هغه مهال چې بیا لیکل کېده د پارت واکمنو په لومړي عیسوی پېړۍ کې چې انجیل نوشته کېده د اوستا د لیکلو هوډ هم وکړ.
له دغو یادونو نه بريښي، چې اوستا په بېلابېلو وختونو کې رغول شوی دی. نو ښه به وي چې د لومړي اوستا او بیا له هغه نه وروسته د رغاول شوي اوستا په تړاو یوه لنډه یادونه ولرو.

نوې او لرغونی اوستا
ختیځپوهانو په بېلابېلو بڼو، د اوستا کلمه ژباړلې ده، چې یو شمېر څېړونکو د «قانون» مانا ترې اخستې ده او یو شمېر نورو ورته د مضمون کلمه کارولې ده.
پروفیسر «ګلډ نر» د لرعونیوه «اندراس» له انده کښلي دي، چې د اوستا کلمه او یا د «پهلوي اوستاک»کلمه له «اوپستا upasta» څخه اخستل شویده.
اوستا پورې تړلې کلمه زند، چې له زانتو zantu څخه ریښه اخلې او «زند اوستا» یې ګڼی، پدې مانا یانی «ښاري قانون » .
په ټوله کې انګېرني داسي دي، چې ګاتونه له«مانتراسپتا manthracepta څخه عبارت دی، چې د «سپېڅلو خبرو» مانا لري.
موږ دمخه ووېل، چې د اوستا نسخې د بهرنیو یرغلګرو د برید له امله له مینځه تللی دي، خو دا خبره لا سپینه شوې نده، چې څومره زیان ورته اوښتی وو، څونه له مینځه تللی او څونه پاتې وې؟ ولې څېړونکو، په دغه لړ کې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

پلینیوس plinius د «هرمپیپوس» د کتاب له مخې لیکلي دي، چې د زرتشتر مذهبي کتاب له دوه میلونو شعرونو نه جوړوه.
له دې ځخه ښکاري، چې د سکندر له برید نه دمخه د اوستا کتاب، چې د غوایانو په دولس زره (۱۲۰۰۰) پوټکو د طلا په اوبو لیکل شوی وو تر ډېره بریده پر ځای خبره ده.
هغه وخت چې زرتشت، خپل کښل شوي قانون د باختر واکمن گشتاسپ مخته کېښود، نو پاچا سپارښتنه وکړه، چې د باختري هېواد پوهان او عالمان له هغه سره مناظره وکړي.
په پای کې پاچا امر وکړ، چې د زرتشترا کتاب د طلا په اوبو ولیکل شي او بیا په ټول هېواد کې خپور شي، هغه وه چې اوستا نه یوازې د گشتاسپ تر واک لاندې سیمو کې خپور شو، بلکې چېرته چې اریایانو استوگنه درلوده د زرتشت د کتاب نسخې یې تر لاسه کړې،چې داوښانو ،اسونو ،پیلانو،خرونو اوکچرویه وسیله لیږدېدلې.
فرانسوي ختیځپوه د ارمستتر، دی د کابل پهلوان بللی دی او لکه څرنگه چې په شاهنامه کې د رستم د پهلوانی کیسي شویدي، دارنگه په اوستا کې د گشتاسب د اتلولی یادونه هم شوېده او دی د تیز اسپ ښښتن هم بلل شویدي.
اسپه کورنی په بلخ کې د ښو اسونو ښښتن ول. په سر کی د دې کورنی مشر لهراسپ او زوی یې همدغه گشتاسپ یا ویشتاسپ وه، چې په باختر کې پاچا شو، زرتشت یې وپاله او د همده په زمانه کې د یوه داسې دین بنسټ کېښودل شو، چې د واحد خدای لمانځنه او ستاینه یې کوله او د رټلي شیطان غندنه .
اهوره مزده یې یوازینی خدای گانه او شیطان یې «اهریمن باله. دا یو داسې مهال و، چې پارس ته نږدې، د مینځني ختیځ شاوخوا سیمو کې یو شمېر ټولواکمنی یو د بل پسې مینځته راغلې، چې په افغانستان یې هم اغیزه وکړه، چې موږ سومریان، بابلیان، اشوریان او نور د ساري په توگه یادولی شو.
د خزر جنوب ته مادیانو او په پارس خلیج کې پارسیانو، اشوریانو ته باج ورکوه ،کروش، چې د هخامنشیانو د ټولواکمنی بنسټ کېښود، نه یوازې د هغوئ د باج ورکوني نه سرغړونه وکړه بلکې په ۵۳۸ م ز کال یې، ټول بابل ونیو، فنقیه او فلسطین یې هم د خپلی ټولواکمنی برخه کړ، غوښتل یې مصر لاندې کړي، خو په افغانستان کې «ساکي» ټبر د پارسیانو پر وړاندې پاځون وکړ.
په افغانستان د پردېیو د برید سریزه له دغه مهاله پیل شوه، که څه هم په افغانستان کې کروش خپل سر وخوړ، خو د سکندر په برید په سیمه اوافغانستان کې ژور بدلونونه رامینځته شول او دلته دی چې د بهرنیو یرغلگرو په پایله کې افغانستان ته ډېر زیانونه واوښتل او د زرتشت کتاب هم دروند زیان ولید.
ولي بیا هم سپېڅلی اوستا د ولسي او پلکلوریک ادب په څېر څه ناڅه د خلکو په سینو کې پاتي وو. نو ځکه خو خلکو هڅه کوله، چې هم یې د خلکو له سینو راټول کړي او هم هغه تیت و پرکه برخه چې یونان ته استول شوی وه او یا په نورو بنو، چې کومې نسخې له برید نه ژغورل شوې وې او له یو مخی له مینځه نه وې تللی، د راټولولو هڅه چټکه شوه.
دا دارمستتر په اند د لومړي ځل لپاره د پارتیانو په زمانه کې، چې چا د اوستا د راټولولو هڅه وکړه هغه ولګش volkash یا پارتي ولخش وو، لکه څرنگه چې د پارتیانو د واک او سلطنت په مهال پدې نوم څلور تنو سلطنت کړېدی، خو ډېری څېړونکي پدې اند دي، چې د دوئ نامتو واکمن ولخش، لومړی ولجس وو.
دا هغه مهال دی، چې د نړی پدغه سیمه کې، چې لرغونپوهانو یوروشیا بلله، د روم امپراتور «نرو nero» د لومړئ زېږدي پېړی په دویمه نیمایي کې پاچا وه.
ولخش چې پخپله زرتشت وو، د لومړئ زېږدي پېړی په دریمه نیمایي شاوخوا کې چې څومره یې لاس رسی درلود اوستا راټول کړ، چې بیا د ساسانیانو د واک تر مهال پاتي وو.
د ویدي او اوستایي سرودونو شتون د اریایانو په تاریخ کې د پام وړ ارزښت لري. ریگوید د نورو ویدونو مور ده او یو منظوم اثر دی، که څه هم د لرغونو اریایانو په لرغوني تاریخ کې استورې، افساني او د پلکوریکي کیسي اواتلولی او یو شمېر نور، لکه دېوان، پیریان ښاپیریان او دېته ورته توکي ورگډ شویدي، خو بیا هم یو شمېر تاریخي توکي له پامه نشي غورځېدلی .
د ساري په ډول جرمني ختیځپوه گایگر پدې اند دی کوم قومونه، اتلان او پاچایان، چې په اوستا کې یادونه شوېده، دوی بهرنی وجود درلود، ربښتنې خبره خو دا ده، تر هغه مهاله چې کندنې نه وې شوې یادو توکو د تاریخي افسانو بڼه درلوده ، ولې کله چې ختیځپوهانو او څېړونکی د لرغونپوهنې له مخی څېړنې او ځیرنې وکړې، د تاریخ ډېر تیاره او تت گوټونه تر یوه بریده روښانه شول.
لومړی لویه خبره خو همدا ده، چې زردشت د لرغوني افغانستان په پلاز بخدي (بلخ) کې زېږېدلی دی او د خپل آثارو په وسیله وپېژندل شو، چې تفسیر یې په پهلوي (زند) ژبه شویدی .
په ویدي او اوستایي سرودونو کې یو لړ داسې ښکلاییز توکي، اساتیر او تاریخي ډوله انگېرنې په دوا ړو اریایي کتا بونوکي ترسترگوکېږي ، چې د ټولو اریا یانولپاره له ویاړه ډ ک نومونه دي ...
لکه د یما (جمشید) نوم، چې په ویدي سرودونو کې یما د مړیو رب النوع او د هغې (اوخروي) نړی شفاعت کوونکی او مخور بلل شویدی، په اوستا کې هم یما ستایل شویدی او د ښاري ژوند بنسټگریي گڼلی دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په اوستا کې تر يوه بريده په اوښتې بڼه نه يوازې د جم (جمشيد) يادونه شوېده، بلکې د ګشتاسب (ويشتاسب)، کاويانو، پيشداديانو، د کياني او اسپه کورنيو يادونه هم شوېده، چې په بلخ او لرغوني باختر کې واک درلود.
ددغودرې واړوسلطنتي کورنيوپه کړنوکې يوشمېرولسي اوپلکلوريک داسي ارزښتونه ترلاسه کولی شو چې دوخت له ښکلا او هنرډک اثاريي پنځولي دي .
مورخکي له دې چې د يادو کورنيو د واک او ځواک په تړاو څرګندوني وکړو، غوره به وي، چې د افغانستان د لرغوني ولسي ادبياتواولرغوني تاريخ يوشمېر تاريخي اوپلکلوريک توکي، تاريخي اصطلاح وي، تاريخي کرونو لوژي، ترمينالوژي، ميتولوژي (داستاني) او نور ملي ارزښتونو ته لنډه کتنه وکړو او يا هغه چا چې کندنو ته لاره پرانستی ده، د نوم په يادونه يې لمانځنه وکړو، دا ځکه دغه لرغونپوهان پدې پوهېدلي ول، چې اريايي توکمونو د بشري تاريخ په نړيوال کلتور کې ستر او د پام وړپرتم او نخش لوبولی دی.
لکه په تېرو پا ڼو کي چې مووويل ، د ليک له ايجاد نه په پخوا زمانه کې کوم لرغوني توکي، چې د فرانسوي لرغونپوهانو يا د نورو هيوادونو تاريخ کښونکو د څېړنو اويا د کندنو له مخې ترلاسه شويدي، دا ښيي چې پدغه پېر کې يو تولنيز ژوند شتون درلود.
دغه کندني په ۱۹۳۶ کال پوهاند هاکن د پروفيسر «ګريشمن» په مرسته يا موسيوديو پره، امريکايي فيرسرويس او په لسګونو نورو په هلمند (سيستان)، ارغنداب او د هيواد په نورو ياني غزني، ننګرهار، با ګرام، کاپيسا، کندوز، نجراو، وردګ، بغلان، سمنګان، بلخ، کابل، جوزجان،، د امورود شاوخوا سيمي، چاربرجک، منديګک، کويټه، د اندوس حوزه، هرپه، پنجوايي، شمشير غار، کندهار او د هېواد ګڼې سيمې ليدلي يادولی شو، چې د افغانستان د لرغوني تاريخ تياره او تت ګوټونه روښانه کړيدی.
دلرغوني اريا وګړي له تاريخ دمخه پېر کې، چې په سپين پوټکو نامتو ول په مينځنۍ اسيا، له کسپين سمندرګي نه راواخله د تور سمندرګی غاړې، د يورال تر غرونو او رودونو شاوخوا سيمو پورې استوګن ول. د انډواروپايي لړی، لکه د انډو-اريايي او کله هم د انډواريانی پنوم يادېږي، هغه اريايي څانګه، چې د هندي اروپايي له اتو څانګو څخه ده په درې برخو اسکايي، آريني (ايرانی )هندي ويشل کېږي او د مخزيږدي درى زره کالو په شاوخوا کې، د سيحون او جيحون تر مينځ ابادول.
دغه خلک له کېوالی نه وروسته بلخ (باختر) ته راغلل او له هغه ځايه د هندوکش دواړو غاړو، هرات (آريانه)، اپارتيان، غور، اراکوزيا (کندهار)، اوريشيا (بلوچستان)، تخار، بدخشان، بلور (نورستان)، چترال، ګندهارا، اندوس، پنجاب، کشمير او نورو سيمو کې خواره شول اوله ځان سره يې دغه لرغوني اريايي کيسي يوړې چې سينه په سينه او خوله په خوله له يوه نسل نه بل ته لېږ دېدې .

---

[1] ) Wilson Aryana Antiqua lonkon p. 120
[2]) غبار مير غلام محمد، افغانستان د مسير تاريخ ۳۶ مخ
[3]) کهزاد احمد علي تاريخ افغانستان ۱۲۵ مخ
[4]) غبار مير غلام محمد افغانستان در مسير تاريخ ۳۶ مخ
[5]) حبيبي پوهاند عبد الحی د افغانستان لنډ تاريخ ۱۳ مخ
[6]) هاشمي الفت خيړونه ۳ کال ۴ ګڼه ۱۳۸۲-۸۳ کال ۱۸ مخ
[7]) هماغه کتاب ۱۴ مخ.
[8]) غبار تاريخېوه مختصرى افغانستان ۱۱ مخ
[9]) هدغه اثر ۱۰ مخ
[10]) د ارمستر زند اوستا لومړی توک ۹۷ مخ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ